**بسم الله الرحمن الرحیم**

## ټولنيز ارزښتونه

هيواد د ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ»ژباړه:« الله د عدل، ښيګڼي او خپلوۍ پالني حکم کوي. او له بدۍ، بې حيايۍ او زور، ظلم څخه منع کوي. هغه تاسي ته نصيحت کوي تر څو درس (پند) واخلئ.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

هيواد د ټولو لپاره دي او ټول پکې ژوند کوي بغير لدي چې ددوي ترمنځ د دين رنګ او نژاد له کبله توپير وکړي شي پدي سره هغه ځانځاني لمنځه ځي چې ځيني غواړي او د بشري وروروليي بنسټ پياوړي کيږي او همدارنګه داسی يو ټولنه رامنځته کيږي چې په مينه او محبت باندي ولاړ وي الله جل جلاله فرمايی:**« وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ» ژباړه:« کوم کارونه چي د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تيري وي، په هغو کښي د هيچا ملاتړ مه کوئ.»** همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د مومنانو مثال ددوي ترمنځ په مينه او محبت او رحم کې داسی دی لکه يو بدن چې وي که چيرته د بدن يو غړی د کوم درد له امله شکايت ولري نو د بدن ټول غړي ورسره نارامه وي همدارنګه ددی ترڅنګ په نورو احاديثو کې هم نبي کريم صلی الله عليه وسلم په همدي بنسټ باندي ټينګار کړي دی.

همدارنګه د ټولنيز ارزښتونو د جملي څخه د يو چا سره ځواني کول او همدارنګه قرباني ورکول اود نورو په ځان باندي مخکي کولو ارزښت دی پدی سره هم ملي او ټولنيزه اجماع رامنځته کيږي مينه محبت او وروروليي خوريږي او د ټولني ترمنځ همکاري رامنځته کيږي ديته هم نبي کريم صلی الله عليه وسلم اشاره کړی ده او د بغض حسد او پريکون څخه يی منع کړی ده لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي تاسو حسد مکوي بغض او کينه چا سره مکوي او په تاسو کې د څوک د بل ورور په بيع باندي بيع نکوي همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي که يو څوک د بل ورور حاجت پوره کړي نو الله جل جلاله به د هغه حاجت پوره کړي او څوک چې د مسلمان څخه سختي لري کړي نو الله جل جلاله به د هغه څخه د قيامت په ورځ سختياني لري کړي او څوک چې په يو مسلمان باندی پرده واچوي نو الله جل جلاله به هغه باندي د قيامت په ورځ باندي پرده واچوي.

همدارنګه لدي جملي څخه د يتيمانو د کمزورو اود سپين ږيرو او د معلولينومعيوبينو پاملرنه ده ځکه چې د هغوي پاملرنه يوه ديني ملي انساني او ايماني وجيبه ده نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : چې که چيرته څوک مسکين او کونډي سره مرسته کوي نو داسی دي چې

د الله په لاره کې جهاد کوي يا داسې دي چې د ورځې روژه نيسي او د شپې قيام الليل کوي همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم په نورو احاديثو کې هم په همدي باندي ټينګار کړي دي د اسلام مبارک دين د معيوبينو او معلولينو ته پاملرنه کول د ټولني يو ارزښت ګڼلي دي او دويته يی دا فرصت ورکړي دی ترڅو په ټولنيز ژوند کې خپل رول اداء کړي همدا وو چې عبدالله ابن مکتوم رضي الله عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم مؤذن ټاکلي وواو همدارنګه هغه ته يی څو ځل په مدينه کې دنده ورکړي وه چې په خلکو باندي لمونځ وکړی او د هغوي د احوالو پوښتنه وکړي.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

همدارنګه د ټولنيز ارزښتونو د جملي څخه بل هم د خبر څرګندوالي او ثبوتوالي دی مخکيلدي نه چې هغه خپور کړی شي اسلامي شريعت دغه ارزښت ته يی هم پاملرنه کړی ده اود هغو شايعاتو او د خپل ځان نه د خبرو جوړولو څخه خبرداری ورکړی دي چې په ټولنه کې خپريږي ځکه چې دغه خبرونه چې په ټولنه کې خپاره شي نو ټولني ويجاړيږي او همدارنګه د ټولني د وګړو ترمنځ ناهيلي رامنځته کيږي الله تعالی فرمايي:« **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ»ژباړه:« ای مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسي نه چې کومي ډلي ته په ناپوهی سره ضرر ورسوئ او بيا پخپلو کړو پښېمانه شئ.»** همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی: يو چا لپاره همدومره دروغ بسنه کوي چې هر هغه څه ووايی چې واوري بغير لدي نه چې فکر پکې وکړي نو عاقل سړی تل مخکي لدي چې خبري وکړي فکر کوي او احمق سړی چې دي تل بغير لدي چې فکر وکړي خبري کوي همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : څوک چې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ باندي باور لري نو هغه د خير او ښيګڼي خبره وکړي او يا دا چې چپ د پاتي شي.

مونږ او تاسی ټول ديته اړتيا لرو چې ټولنيز ارزښتونو ساتنه وکړوترڅو د ټولني ترمنځ مينه او محبت رامنځته شي.

الله د مونږ ته د نيکو اخلاقو توفيق راکړي ځکه چې له تا پرته بل څوک لارښودونکي نشته.